THE WORLD BANK

Working for a World Free of Poverty

**مطبوعاتي خپرونه**

| | |
|---|---|
| اړيکي: *په کابل کی:* عبدالروف ضياء ۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)<br>بریښنالیک :azia@worldbank.org<br>په واشنګتن کی: اريك نورا ۴۷۳۵ ۴۵۸ (۲۰۲)<br>بریښنا لیک: enora@worldbank.org | **خبری خپرونه نمبر**:SAR /۲۰۰۷ |

# نړيوال بانك د افغانستان له پاره د ۱۳۳،۸ ميليونو ډالرو وړيا مرسته برابروي

**واشنګټن، ۲۰۰۷م کال د مې د مياشتې ۲۹مه نيټه** – نن نړيوال بانك د ۱۳۳,۸ ميليونو ډالرو وړيا مرسته د افغانستان لپاره تصويب کړه، چې له دغو پيسو څخه به ۸۰ ميليونه ډالره د موجوده اداري اصلاحاتو، لکه د عامه ادارې او مالی ادارې، ۳۳،۴ ميليونه ډالره د عامه مالي ادارې د سيستمونو د پراختيا ، او ۲۰,۴ ميليونه ډالره به د هيواد د ملکي خدمتونو د ښه والی او په دغو برخو کې د ښو پايلو د لاسته راوړلو لپاره تخصيص شي. د نړيوال بانک مجموعې مرستي د افغانسات سره د ۲۰۰۱ کال راپديخوا په شمول د دغي دري پروژې ۱،۴ مليارد امريکايي ډالرو ته رسيږي چې يوازې سږ کال ۳۱۲ مليارد امريکايي ډالر د ۷ پروژه لپاره په پام کې نيول شوي او په داسي حال کې چې د تير کال مرستي ۲۴۰ مليارد امريکايي ډالر وو.

وروسته له دوو لسيزو جګړو څخه، په هيواد کې د سولې د ټينګښت او د بيارغونې د پيل له پاره مهم پرمختګونه شوي دي. د هيواد اقتصادي وده له ۲۰۰۱م کال نه را په دې خوا پياوړي شوی ده، او داسې هيله او تمه کيږي چې په راتلونکو کلونو کې به دغه وده په سلو کيد ۸ په شاو خوا کې زياته شي. د افغانستان دولت يو لړ مهم تشکيلاتی اصلاحات د نويو پيسو د معرفی کولو او د سوداګريز رژيم جوړولو په ګډون رامنځته کړي دي. همدارنګه، دعامه ادارې د ريفورم، د بودجې او د باوري ادارې د ښه والي له لارې د دولتي تأسيساتو د رامنځته کولو لپاره مهم پرمختګونه ترسره شوي دي.

**ښاغلی الستير مکچنی، د افغانستان لپاره د نړيوال بانك د مرکزی دفتر ډايرکتر داسې ووېل**: په يوه ستونزمن چاپيريال کې په تيرو پنځو کلونو کې له دغو مهمو لاسته راوړنو سره سره، په افغانستان کی شرايط حساس او بدلون منونکي دي. د امنيت او حاکميت پر ستونزو برسيره، کاري ظرفيتونه کمزوري او د پانګه اچونې په برخه کې ډيره اړتيا ليدل کيږي. هغه خنډونه چې د دولت په وړاندې پراته دي هغه له کابل څخه لري د اداري اصلاحاتو د پروګرام پراختيا ، د اغيزناکو دولتي خدمتونو برابرول او د پراخ بنسته اقتصادي ودې رامنځته کول دي.

د ۸۰ ميليونو دالرو مرسته **دافغانستان د ملي بودجې د ملاتړ له پاره** داسې طرحه شوې ده چې د عامه ادارې او مالي ادارې په برخه کې اوسني اداري اصلاحات پراخه کړي. دغه پروژه له هغو ريفورمونو سره مرسته کوي چې په ترڅ کې يي اغيزناکه مالي منابع د روغتيا ، د ښوونې او روزنې د پراختيا او د خصوصي سکتور د پراختيا لپاره اختصاص مومي. دغه پروژه جلا پانګه اچونې او د تخنيکی مرستې عمليات تعديلوی او د مهمو سکټورونو، لکه د عامه ادارې اصلاحات، د خصوصي سکتور پراختيا ، د عامه مالي ادارې او د بودجې د ادارې لپاره د پراخ بنسته اصلاحاتو د تطبيق په برخه کې مرسته کوي.

**د عامه مالي ادارې د اصلاحاتو لپاره** د ۳۳,۴ ميليونو ډالرو پروژه داسې طرحه شوې ده چې د عامه مالي ادارې اغيزناکه سيستم رامنځته او د ماليې وزارت او د کنترول او څيړنې د دفتر بشري منابعو ته وده ورکړي، ترڅو د عامه مالي ادارې ښه فعاليتونه تأمين شي. د دغو اهدافو او موخو د لاسته راوړلو لپاره، دغه پروژه د ماليې وزارت د رياستونو او د کنترول او

پلټنې له دفتر سره مرسته کوي چې د عامه مالي اداري د نوي قانون سره سم، تشکیلات، کړنلارې او لاژمه سیستمونه د دستورونو د اجرا کولو لپاره پراخه او تطبیق کړي، او همدارنګه د مالیې د وزارت د کارکوونکو، د ښکیلو (ذیدخلو) وزراتونو د کارکوونکو او د کنترول او پلټنې د دفتر د کارکوونکو د مهارتونو د ودې لپاره سلاکاران، روزنیز فرصتونه او مواد برابروي.

**د ملکي خدمتونو د اصلاحاتو** لپاره د ۲۰،۴ میلیونو ډالرو پروژه په پام کې لري چې د دولت له مهمو وزارتونو سره مرسته وکړي څو د خدمتونو د برابرولو، د حساب ورکولو او د عامه منابعو او سرچینو څخه د استفادې په برخه کې د هغوی اجراات سمون ومومي. ددغو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره، دغه پروژه مهمو وزارتونو ته مرسته برابروي چې هغوی خپل تشکیل او کارکوونکې د دندو د سرته رسولو لپاره چمتو کړي. همدارنګه، د روښانه قوانینو او کړنلارو سره سم، دغه پروژه د دولت سره د ملکي خدمتونو د اداري په برخه کې مرسته کوي.

**آغلي مریم شرمان، د افغانستان لپاره د مرکزی دفتر د منیجر سرپرست داسې وویل:** د یوه اغیزناکه او مسوول دولت له پاره د دغو اصلاحاتو او سمون بریالیتوب لازم او د لوړې اوغربت د کمولو لپاره مهم دی. دغه پروژې له هیواد سره مرسته کوي چې د ډاډ وړ او په دوامداره توګه د عوایدو وده، لکه څنګه چې یې د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتیژۍ کې یادونه شوي ترلاسه کړي. همداسې نړیوال بانک د آسیایي پرمختیایي بانک، اسلامي پرمختیایي بانک، د ملګرو ملتونو پرمختیایي دفتر د استازیتوب په همکاري د افغانستان د بیارغوني صندوق اداره کوي.. د افغانستان د بیارغوني صندوق د ۲ ملیاردو امریکایي ډالرو چې ۲۷ تمویل کونکو له خوا ژمنه ګړې چې د افغانستان پرمختیایي پروژې او د دولت عادي بودجه تقویت ته په کې اولیت ورکول شوي.

دغه وړیا مرسته د نړیوالې پرمختیایي ټولنې او د نړیوال بانک د امتیازي پور ورکولو د څانګې له خوا ورکول کیږي.

په افغانستان کې د نړیوال بانک د کارونو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره دغه ویبسایت ته مراجعه وکړئ:
http://www.worldbank.org.af

د تأسیساتو(*III*) د رامنځته کولو د مرستې د پروژې په هکله د لاژیاتو معلوماتو لپاره دغه ویبسایت ته مراجعه وکړئ:
http://www.worldbank.org.af/external/projects/main?pagePK=64283627&piPK=73230&theSitePK=305985&menuPK=306018&Projectid=P102709

*د عامه مالي اداري د ریفورم د پروژې په هکله د لاژیاتو معلوماتو لپاره دغه ویبسایت ته مراجعه وکړئ:*
http://www.worldbank.org.af/external/projects/main?pagePK=64283627&piPK=73230&theSitePK=305985&menuPK=306018&Projectid=P099980

*دملکي خدمتونو د ریفورم د پروژې په هکله د لاژیاتو معلوماتو لپاره دغه ویبسات ته مراجعه وکړئ:*
http://www.worldbank.org.af/external/projects/main?pagePK=64283627&piPK=73230&theSitePK=305985&menuPK=306018&Projectid=P097030